


# د څېړنپوه علي محمد منګل

# د (جلات خان - شمایله)

# فولکلوري اثر لهجوي څېړنه

**وړاندې کوونکی:** لطف الله صابر

# په دې کنفرانس کې...

- ❑ سريزه
- ❑ د موضوع اهميت او مبرميت
- ❑ د څېړني موخه
- ❑ د څېړني پوښتني
- ❑ د څېړني ميتود
- ❑ د څېړنپوه علی محمد منګل پېژندنه
- ❑ د څېړنپوه علی محمد منګل اثار
- ❑ د څېړنپوه علي محمد منګل ( جلات خان – شمايله) فولکلوري اثر پېژندنه

- ❑ د جلات خان- شمايله اثر فولکلوري اړخ
- ❑ د جلات خان- شمايله اثر لهجوي اړخ
- ❑ لهجه پېژندنه
- ❑ د معياري او لهجوي ليکدود ځيني ارزښتونه
- ❑ د(جلات خان – شمايله اثرد لهجوي کلمو نسبتاً معادلې معياري کلمې او تحليل يې
- ❑ پايله
- ❑ وړانديزونه
- ❑ ماخذونه



# سریزه

- لکه څرنګه چې هره ژبه بېلابېلې لهجې لري، پښتو ژبه هم له ګڼ شمېر لهجو څخه برخمنه ژبه ده او په ژبه کې د لهجو ډېر والی او کم والی خپلې منفي او مثبتې اغېزې لري چې هغه په جلا کنفرانس کې د وړاندې کولو موضوع ده.
- دا چې ژبپوهانو د لهجو ټولو له پاره بېلابېلې لارې، اصول او پرنسیپونه ټاکلي دي په دې هم موږ دلته ډېرې خبرې نه کوو؛ خو په لنډه توګه ویلای شو چې زموږ په ټولنه کې د لهجو را ټولول له دوو لارو ممکن برېښي چې یوه لاره یې د ساحوي څېړنې له لارې د هرې سیمې له وګړو سره د خبرو اترو په ترڅ کې او بله لاره یې د لیکل شویو او خپرو شویو آثارو له منځه د لهجوي کلمو را ټولول او پر هغو خبرې کول دي.
- ما د دې موضوع په څېړنه کې هڅه کړې ده چې د ښاغلي څېړنپوه علي محمد منګل په (جلات خان – شمایله) فولکلوري اثر کې لهجوي کلمې وپلټم، له معیاري لیکدود سره یې په تحلیلي او توضیحي توګه وړاندې کړم.



# اهمیت او مبرمیت

- د دې علمي – څېړنيز کنفرانس اهميت په دې کې دی چې موږ د پښتو ژبې او ادب پـ-خپرو شويو آثارو کې لهجوي کلمو ته متوجه شو، د معياري او لهجوي ليکدود تر منځ کميت او کيفيت په پام کې ونيسو؛ همدا راز په علمي او څېړنيزو آثارو کې تر ډېره معيار ته پاملرنه وشي او په ادبي، هنري او ذوقي آثارو کې چې زياتره يې په شخصي ذوق او مفکوره پورې اړه لري که په لهجوي ليکدود هم وي ګټه به يې دا وي چې په هغې سره د ژبې لغوي لهجوي زېرمه بډايه کېږي او په شعري قاموس ليکنه کې ترې په اسانۍ سره کار اخيستل کېدای شي.
- د دې موضوع **مبرميت** په دې کې دی چې د ښاغلي علي محمد منګل په ځينو فولکلوري آثارو کې به په کمي او کيفي لحاظ لهجوي کلمې په نښه او راټولنکي کې به ترې په لغوي زېرمه کې پوره ګټه واخيستل شي.




# د څېړنـې موخه

- د دې علمي – څېړنيز کنفرانس د څېړلو موخه دا ده؛ چې د ښاغلي څېړنپوه علي محمد منګل په (جلات خان – شمايله) فولکلوري اثر کې لهجوي کلمې را ټولې او له نسبتاً پښتو معياري ليکدود سره يې لنډه پرتلنه ترسره شي او دا هم په ډاګه شي چې کوم آثار لهجوي ليکدود ولري او کوم يې بايد په نسبتاً معياري ليکدود وليکل شي.
- دا هم د يادولو وړ ده چې پښتو ژبه که څه هم له لهجو برخمنه ژبه ده؛ خو دا چې لهجې يې را ټولې شي، تحليل او وڅېړل شي؛ د ژبې د بډاينې او پرمختګ په برخه کې يوه اړينه خبره ده.
- د لهجو را ټولول که د سيمه ييزې څېړنې له لارې وي او که
د موجودو آثارو د منځپانګې له لارې وي؛ د ژبې د لغوي
زېرمې د بډاينې او د ژبې د څېړونکو له پاره يوه ضروري اړتيا ده.






# د څېړني پوښتنې



1. نسبتاً معیاري لیکدود او لهجوي لیکدود څه توپیر سره لري؟
2. فولکلوري را ټولونې باید تر ډېره په کوم ډول لیکدود ولیکل شي؟
3. د څېړنپوه علي محمد منګل د (جلات خان – شمایله) فولکلوري آثر څو سلنه لهجوي اړخ لري؟






# د څېړنې مېتود

توضيحي ـ تحليلي

او په ځينو برخو کې انتقادي

د څېړنې ډول کتابتونی






# د څېړنپوه علي محمد منګل لنډه پېژندنه

- څېړنپوه علي محمد منګل د الحاج تازه ګل منګل زوی، په ۱۳۲۵ل کال د پکتیا ولایت، موسی خېلو ولسوالۍ د لژې په شنه دره د سیدګي کلي په یوه روښان فکره کورنۍ کې زیږېدلی دی.
- لومړنۍ زدکړې یې په (۱۳۳۳) ل کال په کابل کې پیل او په (۱۳۴۳) ل کال د رحمان بابا له عالي لیسې څخه فارغ شوی دی.
- لوړې زده کړې یې په (۱۳۴۴) ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې پیل او (۱۳۴۷) ل کال فارغ شوی دی.
- ښاغلی منګل په (۱۳۴۷) ل کال په پښتو ټولنه کې د پښتو کورسونو د ښوونکي په توګه دنده پیل کړه چې بیا وروسته په (۱۳۵۲) ل کال د پښتو ټولنې مسلکي غړی شو چې وروسته بیا همدا ټولنه د علومو اکاډمۍ په ریاست واوښته او تر (۱۳۹۴) ل کال پورې د علومو اکاډمۍ د پښتو ژبې او ادب په بېلابېلو برخو کې د مسؤل او غړي په توګه دنده ترسره کړې ده







# د څېړنپوه علی محمد منګل آثار

- ښاغلی څېړنپوه علي محمد منګل د (۸۶) تحقیقي او تخلیقي آثارو لیکوال، د فولکلوري موادو راټولونکی او د ګڼ شمېر نورو خورو ورو مقالو لیکوال او څېړونکی دی.

- دا چې زما د کنفرانس موضوع د د ښاغلي منګل په ټولو آثارو نه راڅرخي؛ پر همدې بنسټ یې د آثارو له تحلیلي او توضیحي معرفي تېر شوم او د خپلې موضوع مطابق د علي محمد منګل په (جلات خان – شمایله) فولکلوري اثر باندې مې له لهجوي او فولکلوری اړخه په لاندې ډول څېړنه ترسره کړې ده.

# د ښېړنپوه علي محمد منګل ( جلات ځان – شمايله) فولکلوري اثر پېژندنه

- د علي محمد منګل زياتره آثار فولکلوري مسائل تر بحث او ښېړنې لاندې نيسي چې د ځينو مواد يې د ساحوي ښېړنې په ترڅ کې راټول کړي (يا يې مرکې کړې دي يا يې پوښتنې کړې دي يا يې غوږ په غوږ او سينه په سينه اوربدلي دي او ثبت کړي يې دي)، له دې ورها خوا ښاغلي منګل ځينې فولکلوري مواد د خپلې تجربې او سترګو ليدلو حالاتو په ترڅ کې هم راټول او خوندي کړي دي.
- د (جلات خان – شمايله) فولکلوري اثر په (۱۳۸۲) ل کال د سريزې او نظرونو په
- شمول په (۱۲۰) مخونو کې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز
- له خوا په آزادي مطبعه کې چاپ شوی دی.







# دوام لري...

- یاد اثر باندې سرمحقق عبدالرحیم ځدراڼ او د سر څېړونکي مرستیال نصرالله ناصر نظرونه لیکلي، له دې نظرونو وروسته د منګل صاحب له خوا د نکل په اړه معلومات ورکړل شوي دي او بیا ورپسې نکل پیل شوی دی، د نکل په پای کې د نکلچي ( مولا داد) چې همدې نکل ناظم او راوي دی پېژندنه وړاندې شوې ده او ورپسې د همدې نکل وییپانګه راوړل شوې ده.



- هېره دې نه وي چې همدا نکل د مولا داد نکلچي له خولې په ټل او پاړه چینار کې د کسټ پرمخ ثبت او بیان شوی چې له همدې مخې ښاغلي منګل کتابي بڼه ورکړې ده او لیکدود یې تر ډېره مختلطه لهجه په بر کې نیسي یعنې د یوې ځانګړې لهجې په ترڅ کې نه دی ثبت شوی.




# د (جلات خان – شمایله) نکل فولکلوري اړخ

- مخکې له دې چې زه د (جلات خان – شمایله) پر همدې نکل خپل نظر څرګند کړم؛ غواړم چې پر همدې اثر د دوو څېړونکو او لیکوالو د نظرونو لنډیز چې د همدې نکل او کتاب په اړه یې لیکلي ځینې برخې راواخلم:

- سرمحقق عبدالرحیم ځدراڼ ویلي: « د جلات خان او شمایلې) دغه نکل په پښتو کې د شمایلې او جلات خان د نورو نکلونو سره په ځینو برخو او ځایونو کې پوره توپیر لري. مطلب دا چې دا نکل د دغې لړۍ یو په زړه پورې جلا وریانټ ګڼل کېږي. که چېرې ځوک په نکلونو باندې کار کوي، نو دغه نکل هم د محقق له پاره په زړه پورې مواد ګرځېدای شي. په دې نکل کې د څېړنې او کره کولو له پاره د نورو نکلونو سره د پرتلې او مقایسې غوره او ارزښتناک مواد لري. په دې سربېره په دې نکل کې د ولسي ادب یوه نوې او ځانګړې بېلګه د (بولۍ) په نامه هم راوړل شوې ده چې د نارو او غږونو څخه وروسته ویل کېږي. دغه بولۍ د ادبي سکښت له مخې دولس سېلابه لري. یاد نکل د ځینو مشخصو ځانګړنو له مخې یو نوی وریانټ دی».




# دوام لري...

- څېړنپوه نصرالله ناصر په دې نکل د نظر ورکوونکي په توګه ویلي: « ما د ښاغلي ... منګل جلات خان او شمایلې کیسه سر تر پایه ولوستله، نوموړي د کیسې په کښلو کې تر ممکنې اندازې امانتداري په پام کې نیولې او کیسه یې د فولکلور ټولونې له منل شویو معیارونو سره سمه ثبت کړې او د لیکلو په وخت کې یې د جلات خان او شمایلې د کیسې د دغه ځانګړي وریانټ سیمه ییز او لهجوي خصوصیات هم له پامه نه دي غورځولي.
- زما له نظره ښاغلي علي محمد منګل چې د جلات خان او شمایلې همدا نکل د پیتې او کیسټ له مخې د مولا داد نکلچي له خولې ثبت او خوندي کړی دی؛ لهجه یې په ځینو ځایونو کې مختلطه او په ځینو برخو کې په منګله لهجه ثبت شوی دی؛ سره له دې چې نکلچي په خپل د پکتیا احمدزی دی او دا نکل یې په ټل او پاړه چینار کې ویلی دی ممکن پر نکلچي باندې د هغې سیمې لهجې اغېز هم موجود وي.

# د (جلات خان – شمايله) اثر لهجوي ارخ




- د ښاغلي علي محمد منګل همدا او نور فولکلوري آثار د لهجو له مخې خورا غني دي، 

  چې د لهجوي څېړنو له مخې يې هر فولکلوري آثر د ارزښت وړ دی.

- د (جلات خان – شمايلې) فولکلوري آثر لهجوي څېړنې په ترڅ کې مې تقريباً (۱۳۲) 

  لهجوي کلمې را ټولې کړې دي چې لاندې پرې په پرتليزه توګه بحث شوی دی.



# لهجه پېژندنه




- لهجه زموږ ژبپوهان ګړدود بولي او اورووپايان ورته ډيالکټ وايي.
- د يوه ځای محاوره او د خبرو ځانګړی طرز
- د يوې ژبې هغه فورم چې په يوه خاصه منطقه پورې اړه لري
- ګړدود پوهنه يا لهجه شناسي هغه علم دی چې د يوې يا څو لهجو تاريخي بدلون، ځانګړنې، پرتلنه، وېشنه او شننه کوي او د ځانګړو علمي اصولو پر بنسټ يې تر منځ حدود ټاکي.

# د معیاري او لهجوي لیکدود ځینې ارزښتونه

- د ښاغلي څېړنپوه علي محمد منګل فولکلوري آثار تر ډېره بریده په مختلط لیکدود چې نه په بشپړه توګه لهجوي لیکدود ګڼل کېږي او نه هم نسبتاً معیاري لیکدود؛ لیکل شوي دي. دا چې قدرمن استاد ځینې فولکلوري فورمونه په لهجوي لیکدود ثبت کړي کار او زیار یې د ستایلو او قدر وړ دی، د نوموړي همدا هڅه د پښتو ژبې په لهجوي زېرمه کې ګټور کار دی؛ خو ځینې نیمګړتیاوې یې دا دي چې کله نسبي معیاري لیکدود ته اوښتی او کله هم لهجوي لیکدود ته، ښه به وای چې ټول فولکلوري فورمونه د راویانو له خولې په خپل اصلي لهجوي شکل او بڼه ثبت شوي او خوندي شوي وی.
- بله خبره دا چې ښاغلي منګل د فولکلوري فورمونو په اړه تیوریکي بحثونه هم کله کله لهجوي کړي او ځینې ځایونه یې نسبتاً معیاري اړخ ته مایل کړي دي. څومره چې زه خبر یم څېړنیز تیوریکي بحثونه تر ډېره بریده باید نسبي معیار ته مایل وي؛ په دې آثارو کې دا نظم په پام کې نه دی نیول شوی. دا هم ممکنه ده چې ځینې راویان هم د فولکلوري فورمونو په نکل کولو او وړاندې کولو کې تر لهجوي اغېز لاندې راغلي دي، هغوی هم چې په کوم ډول او طرز یوه کیسه یا بل فولکلوري فورم اورېدلی دی د نورو لهجو اغېز او ګډېدل پکې لیدل کېږي او همدا کړنه به د دې لامل شوې وي چې ښاغلي منګل د راویانو له خولې کټ مټ په هماغه انداز ثبت کړي او خوندي کړي وي. په دې کړنه کې ښاغلی منګل ځکه نه دی ګرم چې د وخت حالات او د معیار او لهجې یو پر بل اغېز سرې دې ته مجبوروي چې اغېزمن شي.




# دوام لري...

- په څېړنو کې د نسبتاً معياري ليکدود کارولو يوه ښېګڼه دا ده چې
- د يوه قوم د ټولو قبيلو وګړي ترې په اسانۍ سره مفهوم او پيغام اخيستلی شي، خو که چېرې لهجوي ليکدود وکارول شي يوازې د هماغې لهجې ويونکي به په بشپړه توګه پرې پوهېږي د نورو سيمو وګړي به په ډېره کمه کچه مفهوم ترې واخيستل شي، په هر صورت لهجې د خپل ځانګړي خاصيت له مخې د ډېر ارزښت وړ دي چې په څېړلو، راټولولو او خوندي کولو سره يې د ژبې لهجوي لغوي زېرمه بډايه کېږي.
- نسبتاً معياري ليکدود ځانته ارزښتونه او ښېګڼې لري چې بايد پام ورته وشي، يعنې دواړو خواوو ته په خپل ځای کې ځای ورکول او پاملرنه ورته اړينه ده.

# د جلات خان – شمایله فولکلوري اثر د لهجوي کلمو او نسبتاً معادلو معیاري کلمې تحلیل

| ګڼه | لهجوی کلیمه | فونیمیکه بڼه | نسبتاً معادله معیاری کلیمه | لنډ تحلیل |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | رَو | ráw | لاره، ګودره، پته | هېڅ رَو او ګودر يې بيا نه موند |
| ۲ | وګاه | wagah | شپه | خو د وګاه نه تر ګهیځه پوري ناخبره و |
| ۳ | ناخوپه | nac'u´pa | ناخاپه، نابېره | چې په خېره يې ناخوپه سترګې ولګېدې |
| ۴ | لوسي | lose | سم له واره، وار له واره | لوسي او بې درنګه يې لاس ورتېر کی |
| ۵ | کي | ke | کوي | خوار سړی چې غوري کي دا بې حال وي |
| ۶ | څړی | c´ðr˙e | ګوښې، يوازې، يوزری، مړه غوړونه، کوړی سر، ټيټ سر | چې پنځه ورونه مې مړه شول ما د خدای هېڅکله ژوندی نه پاتې کوي چې باميانو ته څړی بې له ورونو پلار او مور ته ورشم |
| ۷ | جوته/ ورجوته | Jawata/ warjawata | څرګنده، ښکاره، ورڅرګنده، ورښکاره، | جلوتون (جلادان) چې پوه شول او دا ورجوته شوه |
| ۸ | تيون | tayon | تنکی، زلمکی، ځوان | بادشاه دغه تيون او تنکي ځوان ته اوه ورځې مولت ورکړ... |
| ۹ | بوت | bu´t | بوتلو، بيول | د بادشاه امر و، جلوتونو تر لاس ونيو د سر د وهلو ځای ته يې بوت... |

# دوام لري...

| ګڼه | لهجوی کلیمه | فونیمیکه بڼه | نسبتاً معادله معیاری کلیمه | لنډ تحلیل |
|---|---|---|---|---|
| ۸ | داري | dare | داسي | شپېږم زوی خپل پلار ته خبرداري ورکړ او داسي يې ورته وويل: |
| ۹ | وندی وندی | Wande wande | په بيره بيره، په منډه منډه، الويزاند، تيز، توند، چابک | د کونډي له زوی وندی وندی په منډه منډه کور ته لاړ... |
| ۱۰ | اتکړه | atkar˙á | ادي، ادکړه، ادکه، ادکی | اتکړې مورې! يعني ګرانې او خوږې مورې... |
| ۱۱ | را سپيرلو | rasperðlo | را سپړلو، کيندلو، پلټلو | ...د موږکانو د ډېرېدلو له امله يې د کوټې په راسپړلو پيل وکړ. |
| ۱۲ | ايبره | ibra | حاصل / ثمره، پايله، نتيجه | له ډېرو هلو ځلو او پلټنو وروسته يې پايله ترلاسه کړه |
| ۱۳ | جوتې/ جووت | joti | ښکاره / ځرګندې | له دې خبرې دا را جوتېږي چې سبا ته به اختر وي |
| ۱۴ | خوځندو | khozendo | خځندې | مېوه لرونکې ونې هر کال د خځندو او حشرو ښکار کېږي |
| ۱۵ | ځلور بولي | cˆalor bole | ځناور ، ژوي | که له يوې خوا ژوي او ځناور طبعيت ته ګڼه رسوي له بلې خوا ځينې زيانونه هم پېښولی شي |
| ۱۶ | توپي | tˇopi | ناري، غږونه، بيتونه | |
| ۱۷ | زيارې / نارې | zeyar˙i | ليارې/ د خولې ځګنې اوبه، لاړې | |
| ۱۸ | راخېجي | rak´eji | را خېږي | را ختل، را پورته کېدل، را جګېدل |

# دوام لري...

| ګڼه | لهجوی کلیمه | فونیمیکه بڼه | نسبتاً معادله معیاری کلیمه | لنډ تحلیل |
|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | الونه / اُولونه | alona | حالونه | حالونه یا حالات ښنګه دي... |
| ۲۰ | خرو | k´ro | خورو، خوړل، خوراک | مور ډوډی خورو... چې په لهجه کې خرو راغلی دی. |
| ۲۱ | مځکې | mzðke | ځمکې | ځمکې یا مځکې ته را ښکته شه... |
| ۲۲ | وادیړي | wadegi | ودیږي | جونې په خوښی او خوشحالی سره ودیږي... |
| ۲۳ | ګرزي | gðrzi | ګرځي | د هېواد او وګړو د ساتنې په موخه ګزمې ګرځي |
| ۲۴ | بیده | bedð | ویده | ویده کېدل روغتیا ته ګټه لري |
| ۲۵ | هلي / اُولي | hale | هلته | څوکی واخله هلته یې کېږده |
| ۲۶ | ایږدي | igde | ږدي | ډېر خلک پیسې سر په سر ږدي |
| ۲۷ | کسم | kðsðm | کسب | دوی د ښکار کسم (کسب) کاوه |
| ۲۸ | کوړک | kor˙ðk | مړ غوږی، ټیټ سری، کوپک | پلانکی سړی مړه غوږونه روان شو |
| ۲۹ | ورچنې | warcˇni | بیدیا، بهر، د باندې، بیرون | د ګرمۍ په موسم کې، بیدیا او بهر ګرځېدل روغتیا زیانمنوي |
| ۳۰ | ووګاه | wogah | بېګاه، نن یا پرون شپه، ماښام | بېګاه ته راشئ غوږي به وکړو... |
| ۳۱ | لالوکه | laloka | تری تم کېدل | زه او احمد په ځنګله کې روان و یو دم تری تم شو |
| ۳۲ | ازانګه | azanga | ډنډوره، غږ او خبر، آوازه خپرول | په ټول کلي کې د کرونا ناروغۍ ډنډوره خپره شوه |

# دوام لري...

| ګڼه | لهجوی کلیمه | فونیمیکه بڼه | نسبتاً معادله معیاری کلیمه | لنډ تحلیل |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| ۳۳ | ګوت | got | ګفت | ځیني خلک یوه اصطلاح لري چې پلاني ته ګفت شوی دی، ځکه په دې حال دی. |
| ۳۴ | وکی | wðkey | وکړ | احمد هغه یا دغه کار وکی یعنې وکړ... |
| ۳۵ | هلې | hale | هلته | هلته، په هغه ځای کې |
| ۳۶ | سايليو | sayelo | سهیلیو، سهیلې | همزولې ملګرې |
| ۳۷ | ټانګې | t˙ange | اوازې او غړونه | د شمایلې د شرطونو ټانګې یوې بلې خوا ته لاړې |
| ۳۸ | جلوتون/ جلوتونو | jaloton | جلادان، جلادانو | جلادان ډېر ظالم او په زړونو کراړې وي |
| ۳۹ | برید او ټک | Bred aw tak | پوله، سرحد، کرښه، برید، ټک | زموږ د ځمکې برید او ټک معلوم دی |
| ۴۰ | ډَولې | d˙awle | ښایسته، ښکلې | د نا مسلم بادشاه ډَولې لور ده |
| ۴۱ | کینتر | kentar | | د ښار په یوه سرای کې یې آسونه کینتر کړل |
| ۴۲ | نیلې | neli | | خپل نیلې یې چې هلې خوندې کړل |
| ۴۳ | ناولده | nawalada | نابلد | مشر ورور یې ښار ته ووت، ناولده دی |
| ۴۴ | کړم کړم | Kar˙am kar˙am | نتلی، ټپې ټپې، زخمې | په زړه یې کړم کړم کړ |
| ۴۵ | پوریخ | púrekˇ | سم، بیخې، | له دین او مذهب نه مو جار شم، پوریخ په دې یوه شوم |

# دوام لري

| ګڼه | لهجوی کلیمه | فونیمیکه بڼه | نسبتاً معادله معیاری کلیمه | لنډ تحلیل |
|---|---|---|---|---|
| ۴۶ | مموز | mamoz | وثکي، ويثکي، اوثکي، مميز | نقل واخله، مموز واخله... مميز وچه خوږه مېوه ده چې وګړي يې له چايو سره خوري او په پلوي وريځو کې د پخلي له پاره هم اچول کيږي. |
| ۴۷ | امځولي | amzole | همزولي | احمد د محمود همزولی دی... |
| ۴۸ | رکم | rakam | رقم، قسم، ډول | قيضه يې په يو رکم، جلو په بل رکم حرکت يې وکړ... |
| ۴۹ | ثوری | c^ore | خواږه ييز توکي، لګښت، د سفر خرخ او مصرف | خرخ او ثوری هم ورسره نشته په زړه کې يې سوچ وواهه... |
| ۵۰ | وري | wre | وړي، وړل | ملنګ چې زموږ کالي مالي وري خاورې ولې نه وري... |
| ۵۱ | ملمه، اولمه | Mŏlma/ olma | مېلمه | فضل رحمانه! ملمه يې که نه سابه دې په مالګه کوم... فضل رحمان د نکل د ميدان شپون دی. |
| ۵۲ | کي | Ke | کوي | چې بې زويه باچاهي کي کور يې وران دی... بولی |
| ۵۳ | پی | pŏy | شيدې | ادې مورې! که سپينې پی راپسې پل کړې. |
| ۵۴ | پل | pŏl | بخښل | که سپينې پی راپسې (پل) کړې... |
| ۵۵ | غمر | g´amar | لېونتوب، سرګرداني، ويرجن او غمځپلی کېدل، | ... هغې ته ګيله ودرېده، سخته غمر ونيوله.. |
| ۵۶ | کوکې | koke | چيغې، نارې، سورې | وار د مينځې دی سوې سوې کوکې وهي... |




# پایله

- د جلات خان او شمایلي فولکلوري نکل په لهجوي څېړنه کې، دې پایلې ته ورسېدم؛ که څوک غواړي چې د پښتو ژبې بېلابېلې لهجې په کره توګه را غونډې کړي او په پرتلیزه توګه يې تحليل کړي؛ نو اړینه ده چې لومړی ولس او بیا ولسي ادب ته مراجعه وکړي.
- د دې اثر په لهجوي څېړنه کې تقریباً (۱۳۲) لهجوي کلمې راغونډې شوې دي چې ډېره برخه يې په منګله لهجه پورې اړه لري او ځینې يې مختلط رنګ لري.
- د لهجو را ټولول او سپړل د ژبې او لهجوي قاموس د بډاینې له پاره یو ارزښتمن کار دی، اړینه ده چې په دې برخه کې لا ډېر کار وشي. زه به د خپل توان سره سم هڅه وکړم چې راتلونکې کې د ښاغلي منګل او نورو فولکلور ټولونکو په آثارو کې د لهجوي کلمو څېړلو ته دوام ورکړم او دا کار راته یوه نوې تجربه ښکاره شوه چې فولکلوري مواد د لهجو له اړخه خورا غني مواد لري.

# وړاندیزونه




لکه څرنګه چې هره چاره خپلې ښېګڼې او نیمګړتیاوې لري؛ نو پر همدې بنسټ یې د ښېګڼو او نیمګړتیاوو د لا سپړنې او څېړنې له پاره ځینو وړاندیزونو ته اړتیا لیدل کېږي.

1. ـ د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز او پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت ته وړاندیز کوم چې د ښاغلي علي محمد منګل د فولکلوري آثارو لهجوي څېړنه تر سرلیک لاندې ځانګړې پروژه باندې فکر وکړي؛ په دې کار سره به د منګلو او لویې پکتیا د ځینو نورو قبیلو ډېرې خورې ورې لهجې راټولې او خوندي شي.

2. ـ د لهجوي قاموس د بډاینې له پاره اړینه ده چې لومړی له موجودو فولکلوري آثارو څخه لهجوي کلمې را ټولې شي؛ د دې کار ارزښت په دې کې دی چې موادو ته لاسرسی یې آسان او په چټکه توګه د خوندي کولو وړ دي؛ ممکنه ده چې د روټین پروژې په توګه په پام کې ونیول شي.

3. ځینې فولکلوري آثار په مختلطه لهجوي بڼه لیکل شوي او فولکلوري مواد یې هم په مختلطه لهجه ثبت او خوندي شوي دي؛ دا ډول موضوعات هم د څېړلو وړ دي، ښایي په دې برخه کې هم کنفرانس په پام کې ونیول شي.

# ماخذونه





1. ـ نورګل. منګل، د علي محمد منګل د آثارو پېژندنه، برادران متحد صنعتي مطبعه، ۱۳۹۵ل کال.
2. ـ علي محمد، منګل. جلات خان ـ شمايله، عبدالرحيم ځدراڼ، د جلات خان او شمايلې پر نکل نظريه، آزادي مطبعه، ۱۳۸۲ل کال.
3. ـ علي محمد، منګل. جلات خان ـ شمايله، نصرالله، ناصر. د جلات خان او شمايلې په کيسه کتنه او نظريه، آزادي مطبعه، ۱۳۸۲ل کال.
4. ـ آريانا قاموس. بېلابېل ليکوالان، لومړی ټوک، ۱۴۰۲ل کال.
5. مولاجان تنيوال، ژبه او ټولنه، مومند خپرندويه ټولنه ، جلال آباد، ۱۳۹۴ ل کال، ۸۹مخ.
6. محبوب شاه محبوب، د ګرږدود تيوريکي څېړنه، پکتوس خپرندويه ټولنه، ۱۴۰۰ل کال، ۱۳مخ

# پوښتني؟



# له پاملرني مو مننه

